# څوک چې له الله پرته په بل چا قسم وخوري هغه کفر او یا شرک وکړ

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی چې هغه له یوه سړي څخه یې واورېدل چې ویل یې: نه؛ قسم په کعبه، نو ابن عمر وویل: له الله پرته په بل څه قسم نه خوړل کیږي، یقینا چې ما له پیغمبر صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: "څوک چې له الله پرته په بل چا قسم وخوري هغه کفر او یا شرک وکړ".

[صحیح دی] [ابو داود، الترمذي، او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې چا په الله تعالی، د هغه له نومونو او صفتونو پرته پر بل څه قسم وکړ نو یقینا چې په الله یې کفر او یا شرک وکړ؛ ځکه چې قسم خوړل د هغه څه د عظمت تقاضا کوي چې قسم پرې یاد شوی دی، او لویي یوازې یو الله لره ده؛ نو قسم نه خوړل کیږي مګر په الله او یا د هغه په نومونو او یا صفتونو باندې، او دغه قسم د کوچني شرک څخه دی؛ خو که چېرته قسم کوونکي د هغه څه چې قسم یې پرې یاد کړی دی دومره تعظیم وکړي لکه د الله تعالی او یا لده څخه زیات، نو دا مهال به یې لوی شرک کړی وي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3359

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee